# امریکا د زکات نړیواله موسسه افغانستان دفتر

## د پروژی نوم

**Orphan Sponsoring Program -OSP- (یتیم شاګردانو ته د تعلیم او تربیه زمینه برابرول)**

## Project Implementation Area (د پروژی د عملي کیدو ساحه)

**(ننګرهار خوږیاڼیو ولسوالي/ کابل مرکز/کاپیسا محمود راقي/تخار تالقان او خواجه بهاندي/لوګر پل عالم)**

**تاریخ/Date: March-3-2024**

## (یتیم شاګردانو ته د تعلیم او تربیی زمینه برابرول) پروژې د غذایی او غیرغذایی توکو د دوه ربعو خریدارۍ ته د قراردي اړتیا

د امریکا د زکات نړیواله مؤسسه غواړي چه د یتیم شاګردانو ته د تعلیم او تربیه زمینه برابرول د پروژی (Orphan Sponsoring Program) لپاره یو لړ غذایی او غیرغذایی توکي د قرار داد له مخې خریداري کړي، کوم تجارتي شرکتونه چې د قرارداد کولو لېوالتیا ولري، آفر تر لاسه کولو څخه وروسته دې تر نهو ورځو پورې د یادې مــؤسسې مرکزي دفتر ته چه دکابل په شهرنو چهارراهي یعقوب تکسار ټاور کی موقیعت لري خپل اسناد په فزیکي ډول وسپاري, یوازی د ایمیل له لارې رالیږل شوي اسناد د منلو وړ ندي.

البته د اسنادو لېږلو د پای نېټه 14-03-2024 د پنجشنبی ورځ د غرمی 12:00 بجو پورې ده، له ذکر شوي وخت څخه وروسته لیږل شوی آفر نه منل کېږي.

### د شرکتونو محترمو مسؤلینو!

کله چې آفر تر ډکولو وروسته د ZFA دفتر ته سپارۍ، د شرکت دجواز رنګه کاپي، د شرکت د رئیس او معاون د تذکیرې رنګه کاپي، د دفتر کرایې قرارداد خط، د تیر کال د مالیی د تصفیی مکتوب او نور اړین اسناد د آفر سره اړین دي چې باید راولېږل شي، همداراز د آفر ټولې ورقې باید مهر او لاسلیک کړئ.

ایمیل ادرس: hamidudiny@zakat.org

| | | | |
|---|---|---|---|
| د آفر د سپارلو د پیل نېټه: | وخت : سهار 09 بجې | ورځ : شنبه | نېټه : 3-03-2024 زېږدیز |
| د آفر بیرته ترلاسه کولو د پای نېټه: | وخت : د غرمی 12:00 بجې | ورځ : پنجشنبه | نیټه :: 14-03-2024 زېږدیز |

### د داوطلب شرکتونو محترمو مسؤلینو!

د ZFA نړیوالې مؤسسې لخوا په RFQ کې چې په کوم نوعیت او کیفیت جنس غوښتل شوی دی باید د هماغې نوعیت او کیفیت په نظر کې نیولو سره نرخ ورکړل شي، د هری اشتباه په صورت کې شرکت د مؤسسې لخوا تور لیست ته شاملېږي چې په راتلونکي کې ورته هیڅ ډول د ګډون حق او قرارداد نه ورکول کیږي. همدارنګه حق اولیت هغه تجارتي شرکت ته ورکول کیږي چه نرخونه یی مناسب او کیفیت یی لوړ او باوري وي.

په درنښت

## د داوطلب شرکت یا قرارداد کوونکي لپاره ټاکل شوي شرایط :

| | |
|---|---|
| 1 | داوطلب شرکت باید رسمي جواز چه د تجارت وزارت سره راجستر شوی وي او لږ تر لږه یکی شپږ میاشتې وخت پاتې وي ولري. |
| 2 | په RFQ کې چې په کوم نوعیت او کیفیت سره غذایی او غیرغذایی توکي ذکر شوي دي، داوطلب شرکت باید د همدې نوعیت او کیفیت له مخې جنس محاسبه او نرخ یی راولېږي. |
| 3 | دغه غذایی او غیرغذایی توکي د پنځه ولایتونو (ننګرهار خوږیانیو ولسوالي / کابل مرکز /کاپیسا محمود راقي /تخار تالقان او خواجه بهاندي /لوګر پل عالم ) لپاره ترسره کېږي چه د هر ولایت لپاره ( 200) سهمه ثبت او راجستر شویدي. او د پورته ذکر شویو ولایتونو چه د(ننګرهار خوږیانیو ولسوالي / کابل مرکز /کاپیسا محمود راقي /تخار تالقان او خواجه بهاندي /لوګر پل عالم )د توزیع مرکزونو ته چه د مؤسسې لخوا مشخص شوي وي د توزیع د وخت نه باید یو شپه یا د پنځو نه تر شپږ ساعتونو مخکی د قراردادي شرکت لخوا ورسول شي او همله ځای پر ځای شي او وروسته د منظم کیدو څخه د ZFA دفتر ساحوي ټیم ته تسلیم شي. |
| 4 | انتخاب شوي شرکت ته پیسی د پنځه ګونه ولایتونو د توزیع وروسته پیسی په نغدي توګه ورکول کیږي. |
| 5 | که چېرته جنس کیفیت خراب وو یا هم د بستو شمېر یا وزن کم وو یا هغه شرایط چې په RFQ کې ذکر شوي وو، بشپړ شوي نه و، بیا د قراردادي شرکت څخه د موسسی ساحوي ټیم په هیڅ نوعه تسلیمي نه اخلي تر څو یی توکي نه وي پوره کړي او یا یی د پوره کیدو ضمانت نه وي ورکړی . |
| 6 | په RFQ کې ورکړل شوي نرخونه د داوطلب شرکت لخوا د ورکړل شوې نیټې څخه تر 2 میاشتو پورې باید اعتبار ولري او مؤسسه به د همدې نرخ له مخې د اړتیا وړ اندازه غذایی او غیرغذایی توکو خریداري کوي . په بازار کې تر راتلونکو 2 میاشتو یعنی د May تر ختمیدو پوری د نرخ تغیرېدو په صورت کې مؤسسه هیڅ ډول مسؤلیت نه لري او قراردادي شرکت مکلف دی چې د همدې ورکړل شوي نرخ له مخې حساب وکړي او جنس آماده کړي. |

| | |
|---|---|
| 7 | د داوطلب شرکت لخوا لېږل شوي نرخونو کې به دوه سلنه 2% مالیه شامله وي چې له قراردادي شرکت څخه ګرځول کېږي او د مؤسسې لخوا دولت ته تحویلیږي. |
| 8 | غذایی او غیرغذایی توکي د ذکرشویو ولایتونو انتخاب شویو مرکزونو ته د انتقالولو لګښت، اړینو توکو بسته بندي یا Packing لګښت او همدا رنګه د نوموړو توکو د بارولو، بیرته ښکته کولو او د توزیع په مرکزونو کی د تنظیمولو لګښت په انتخاب شوي قراردادي شرکت دی. |
| 10 | کله چې د ټاکل شوې کمیټې لخوا کوم شرکت د قرارداد وړ وګڼل شو او د قرارداد څخه وروسته د توزیع پلان ورسره شریک شو ، شرکت مکلف دی چې د پلان له مخې جنس تعین شوي ساحې ته ورسوي د ځنډ په صورت کې د هری یوې ورځې ځنډ لپاره قراردادي شرکت 10000 لس زره افغانۍ جریمه کېږي او ترینه به ګرځول کېږي چې بیا هیڅ قسمه عذر د منلو وړ ندی. |
| 11 | داوطلب تجارتي شرکت باید په کابل مرکز کې د دفتر فزیکي ادرس ولري، تر څو د ZFA مؤسسې دفتر د جنس کیفیت او بسته بندۍ څخه خارنه او نظارت وکړي. |
| 12 | د انتخاب شوي شرکت لخوا چه په RFQ کی کوم نوعه غذایی او غیرغذایی توکي ورکړل شوي وي، باید کټ مټ هماغه شی واخیستل شي د درغلۍ او نه عملي کیدو په صورت کی د نوموړي شرکت څخه نه یوازی د قرارداد حق اخیستل کیږي بلکه په تور لیست کی اچول کیږي. |

یادونه: قرارداد کوونکي شرکت باید پورتني ذکر شوي شرایط په نظر کې ونیسي، د پورتني 12 شرایطو څخه د یو شرط نه عملي کولو په صورت کې داوطلب شرکت ته د ګډون حق نه ورکول کېږي.

په درنښت

**د داوطلب شرکت په اړه معلومات:**

**د شرکت نوم د جواز مطابق :.......................................................................................................................................................................**

**د شرکت د جواز ثبت شمېره او جواز شمېره :..........................................................................................................................................**

**د شرکت د رئیس / مرستیال نوم ................................................... د شرکت د رئیس / مرستیال د تذکیرې شمېره :...............................................................................**

**د شرکت د رئیس / مرستیال د اړیکې شمېره:..................................................................................................................................................**

**د شرکت د دفتر ادرس:...........................................................................................................................................................................**

**د شرکت استازی( نماینده ) نوم :...................................................... په شرکت کې دنده :...................................................... د اړیکې شمېره :..................................................**

**د شرکت استازي( نماینده ) ادرس:........................................................................ د شرکت د استازي ایمیل ادرس :..........................................................................**

**د شرکت مسؤل استازی ( نماینده) لاسلیک او مهر :............................................................. نېټه :............/................/ ............ ورځ :.............................. وخت :.............................**

**اړین اسناد چې باید داوطلب شرکت یې له همدې RFQ سره مل را ولېږي:**

**1-د داوطلب شرکت جواز رنګه سکن کاپي 2 - د داوطلب شرکت د ریس / مرستیال د تذکیرې رنګه سکن کاپي 3 - د دواطلب شرکت دنماینده د تذکیرې رنګه سکن کاپي**

**4- د شرکت یا عمده پلورنځیو د دفتر کرایې قرارداد خط رنګه سکن کاپي یا هم که دفتر په خپل جایداد کې اوسي بیا د جایداد اړوند اسنادو کاپي**

**5- د تیر کال د مالیی د تصفیی مکتوب کاپي**

**یادونه: د همدې آفر 5 پاڼه او 6 پاڼه باید د شرکت ریس /مرستیال یا مسؤل استازي (نماینده) لخوا مهر او لاسلیک شي.**

**د پورته ذکر شویو اسنادونو د RFQ سره یو ځای را لیږل اړین دي که چیرته یو سند هم کم اوسي نو افر یی رد کیږي او همدارنګه اسنادونه باید اصلي اوسي او په اسنادونو کې هر ډول تقلب جرم دی.**

## RFQ for Food and Non-Food Items of OSP Project / د یتیم شاګردانو ته د تعلیم او تربیې زمینه برابرول پروژې د غذایي او غیرغذایي توکو کوټیشن

| شمیره | د جنس نوم | د مقدار واحد | اندازه | بسته بندي ، بارګیري ، انتقال د موسسې ګودام ته او تخلیه د جنس | وضعه شوې مالیه Deductible Tax | د جنس تعین شوی قیمت د شرکت لخوا | د یو جنس جمله قیمت په افغانیو ( جنس+بسته بندي + بارګیري + انتقال + تخلیه + مالیه + تعین شوی قیمت) | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 50 کیلویی قزاقي / مروج اوړه ښه کیفیت | بوجۍ | 6000 بوجۍ | | | | | غذایي توکي |
| 2 | 5 لیتره مایع د پخلي روسي مروج غوړي ښه کیفیت | بوتل | 6000 بوتله | | | | | |
| 3 | پاکستانی سیله اوله وریجه ښه کیفیت | کیلو | 48000 کیلو | | | | | |
| 10 | د کتابونه بکسه | عدد | 1000 عدده | | | | | قرطاسیه |
| 11 | کتابچې 60 ورقه ایرانی | درجن | 2000 درجنه | | | | | |
| 12 | پرکار اکسفورډ | عدد | 1000 عدده | | | | | |
| 13 | پنسل سیا | درجن | 1000 درجنه | | | | | |
| 14 | ګیان قلمونه | درجن | 1000 درجنه | | | | | |
| 15 | پنسل پاک | عدد | 1000 عدده | | | | | |
| 16 | پنسل تراش | عدد | 1000 عدده | | | | | قرطاسیه |
| 17 | فلزي خط کش | عدد | 1000 عدده | | | | | |
| 18 | پاکستانی اوله درجه رخت د نارینه او ښځینه یتیمانو لپاره د هلکانو لپاره ۴ متره جوړه او د انجونو لپاره ۳ متره کمیس، او ۳ متره پرونی او پیجامه | جوړی | 2000 جوړی | | | | | د اختر تحفه |
| | مجموعه قیمت په افغانیو | | | | | | | |

کـــوم نرخونه مو چې پورته د ZFA نړیوالې مؤسسې ته ورکړي دي له دقت څخه وروسته د جنس ښه کیفیت، د جنس بسته بندي مصارف، بارګیري مصارف ، انتقال مصارف، تخلیه مصارف، مالیه، د جنس قیمت پــــه نظر کې نیولو وروسته محاسبه او ورکړل شو ، په بـازار کې د نرخ د تغیرېدو په صورت کې مؤسسه هیڅ ډول مسؤلیت نلري که نرخ لوړ شي او یا هم کم شي او نه نرخونو کې تغیر راتللی شي د ( شرکت نوم : ) شرکت اداره همدې نرخ ته ژمن او صادق دی.

د شرکت د رئیس لاسلیک او مهر

یادونه : که چیرته په پورته جنسونو کې د جنس بسته بندي مصارف، بارګیري مصارف ، انتقال مصارف، تخلیه مصارف، مالیه، د جنس قیمت پــــه نظر کې نیول شوی وي نو بیا د شرکت اسناد او جنس د نورو شرکتونو سره د مقایسې یا پرتله کیږي او که چیرته یواځې د جنس قیمت ورکړل شوی وو او مالیه یا نور مصارف په کې نه وو لیکل شوي بیا په هیڅ ډول د ګډون حق نه ورکول کیږي.